محمد معصوم هوتک ۲۰۱۷/۰۲/۲۲

# سید جمال الدین افغان په کندهار کې

## دوهمه برخه (تکمله)

پر دغه موضوع باندي زما لیکنه دوې ورځې وړاندي له افغان جرمن آنلاین څخه خپره سوه او په هغې کې مي په کندهار کي له سیدافغان سره د ځینو علماوو د کتني او د هغوی د لنډي پېژندني په باب یو لړ مطالب کښلي ول. په هغو کي د "ملا عبدالحق طل" یادونه هم راغلې وه چي د (طل) کلمه راته "گونگه" ایسېدلې وه او له دې اسیته مي دغه ملا عبدالحق د "والله اعلم بالصواب" په قید سره د یاقوت السیر مؤلف ملا عبدالحق خروټی بللی وو. د لیکني تر خپرېدو وروسته زما دانشمند دوست ښاغلي حفیظ خان کرزي په تیلفون کي را ته و ویل چي "طل" به یقین ته په نزدې گومان سره د پخواني کندهار ( تهل) وي او د عربیت اغېزې به له هغه څخه (طل) جوړ کړی وي او دا ملا عبدالحق به هم د تهل اوسېدونکی کم (کوم) کاکړ عالم وي. د حفیظ خان کرزي صاحب خبره راته دقیقه وایسېدله او د دې لیکني په ترڅ کي به له ښاغلي کرزي څخه د منني ځرگندولو په ترڅ کي د (تهل، تهل چوتیالۍ) او له دغه نامه سره نور تړلي متفرق معلومات له درنو لوستونکو سره شریک کړ:

تهل ، چوتیالۍ او دوکۍ د اوسني بلوچستان د لورالائي ضلع اړوندي سیمي دي چي د پخواني کندهار په مربوطاتو کي شاملي وې. تهل چوتیالۍ په رسمي او تاریخي منابعو کي زیاتره د یوه واحد نامه په توگه راوړل سوي دي.لورالائي د بلوچستان ایالت په شمال ختیځ کي پرته ضلع ده او مرکز ئې د لورالائي ښارگوټی دئ. تهل د اوسني بلوچستان له مرکز (کوئټې) څخه تقریباً یو سل و شل (۱۲۰) کیلومتره لیري جنوب ختیځ لور ته واقع دئ. موقعیت ئې د سیبۍ (سیوۍ) او ډاډهر شمال ته راځي. د مچ مشهوره بندیخانه چي د مچ په ښار کي واقع ده، د تهل په شمال لویدیځ کي څه گوښه پرته ده. د تهل په نامه یوه واله (ویاله) او یو رود هم سته.

دوکۍ د کوټي ښار ختیځ ته د ۱۶۰ کیلومترو په واټن پرته ده (۱) د دوکۍ او تهل تر منځ واټن تقریباً ۱۱۵ کیلومتره دئ. دوکۍ د تهل شمال ختیځ او د لورالائي ښار جنوب ته پرته ده. د لرغوني کندهار وروستۍ ټک همدا د دوکۍ کلا وه چي وروسته بیا د ملتان سیمه شروع کېدله. ابوالفضل ئې په آئین اکبري کي یادوني لري. پر هندوستان باندي د مغولو د واکمنۍ پر مهال د دوکۍ کلا د کندهار د دروازې حیثیت درلود. مغول امپراتور همایون دغه کلا په ۱۵۴۵ م کي خپل یوه وفادار زمیندار ته وروبخښله چي میرسیدعلیخان نومېدی. میر سیدعلیخان د همدې دوکۍ اوسېدونکی زمیندار وو. په دغه وخت هم دوکۍ د کندهار ختیځه څنډه وه. کندهار تر ۱۵۵۹م پوري د مغولو تر اداري لاندي وو او وروسته د فارس د صفویاتو لاس ته ولوېد. په همدغه کال جلال الدین محمد اکبر بیرته ونیو. تر اکبر وروسته کندهار بیا د صفویانو له خوا اشغال سو او شاه جهان په ۱۶۵۳ م کي د خپل مشر زوی داراشکوه په مشرۍ یو دروند لښکر ورته راواستاوه، خو څه ئې لاس ته ورنغلل. صفویانو چي پر کندهار قبضه ټینگه کړه، د دوکۍ علاقه ئې شیرین خان ترین ته ورکړه. شیرین خان ترین اووه کاله د یوراز خودمختارۍ نغاره وډنگوله خو د کندهار حاکم علیمردان خان پسې ورووت او پښین ته نزدې چي په یوه ښته کي مغلوب کړ. تر ښتي وروسته شیرین خان په دوکۍ او چوتیالۍ کي ځان خوندي وساته.

تر دې وروسته نو بیا کندهار او د هغه اړوندي سیمي د میرویس نیکه د ملي پاڅون تر وخته د صفوي حکامو له لوري اداره کېدلې. نادر افشار چي د کندهار واکمنۍ ته تر یوه کال کلابندۍ وروسته سقوط ورکړ (ذی الحجه ۱۱۵۰ هـ ق)، د دوکۍ، تهل او نورو مربوطاتو اداره سره بې نظمه سوه خو کله چي د معاصر افغانستان د بنسټگر لوی احمد شاه بابا په لاس او تدبیر خواره واره پښتانه او افغانان پر یوه مرکز سره راغونډ سول ، د تهل سیمه ئې د کندهار جزء و بلله. پخپله بابا تهل ته ولاړ او ددغه ځای اداره ئې خپل یوه نماینده ته وسپارله چي اغاجان نومېدی (۲). اغاجان د اداري سرۍ نه وو. تریناان ورته پورته سول او وئې واژه. پر لوی احمدشاه بابا باندي د تریناانو دغه سرکښي درنه تمامه سوه او پر تهل ئې لښکرکشي وکړه. تریناانو اطاعت ومانه ،له بابا څخه بخښنه وغوښتله او هغه هم په بزرگوارۍ سره ومنله. په احمدشاهي عصر کي تهل ددغي سیمي له پاره مرکزي حیثیت درلود.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د بارکزو په واکمني کې د ګندمک معاهدې تر لاسلیکولو( ۱۸۷۹م) پورې تهل او دوکۍ د کندهار یوه برخه وه او ددغه کرغېړن تړون تر لاسلیک وروسته د بلوچستان له نورو سیمو سره یوځای د انګرېزانو لاس ته ولوېدل. انګرېزانو په ۱۸۸۱ م کال تهل چوټیالی او دوکۍ د هرنایي ضلع مربوطه سیمه اعلان کړه او په دوکۍ کې ئې یوه قشله هم جوړه کړه. کله چې انګرېزانو له دیره غازیخان څخه د لورالائي پر لار پښین ته سړک غزاوه، د دوکۍ قشله ئې لورالائي ته نقل کړه. د پولیټیکل ایجنټ مرکزي دفتر چې پخوا په دوکۍ کې وو، هغه ئې هم د لورالائي ښار ته انتقال کړ. تهل چوټیالی اوس په لورالائي ضلع اړه لري.
د کندهار اولسونو ته د تهل چوټیالی نوم او اهمیت د حضرت میا عبدالحکیم کاکړ ( مشهور په نانا صاحب) له نامه سره تړلی هم دئ. ددغه ستر ستانه د ارشاد او تلقین مرکز د کندهار زوړ ښار وو. له دغه مرکز څخه ئې د عرفان او سلوک پلوشې تر خورا ډېر لیرو پرتو سیمو پورې ځلېدلې وې. په سوو زرو مریدانو او خلیفه ګانوئې د عرفاني تزکیې هنګامه توده ساتلې وه. میا عبدالحکیم کاکړ (نانا صاحب) په ۱۰۹۰ هـ ق = ۱۶۷۹م کال د کاکړستان په خانوزو کلي کې دې دنیاته سترګې غړولې وې. پلار ئې سکندرشاه نومېدی او په خانوزو کې ئې د کشف و کرامات خبرې زیاتې تر غوږ کېدلې. د نانا صاحب روحاني لاربښوونه د شیخ عبدالغفور نقشبندي پر لاس بشپړه سوې وه. دی چې کله د خپل روحاني مرشد په امر کندهار ته راستون سو، نو ئې د کندهار په زاړه ښار کې خانقاه جوړه کړه. دا وخت په کندهار کې د حاجي میرویس خان نیکه د مشرۍ کلونه ول. دغه ملي مشر او د هغه اخلافو ناناصاحب ته په اخلاص سره کتل، خو د شاه حسین هوتک د واکمنۍ پر مهال د ناناصاحب خانقاه په داسې برم او عظمت ځلېدله چې ځینو حاسدانو د ځوان واکمن شاه حسین په زړه کې د وېرې او ډار خیالونه ترزیق کړل. شاه حسین ئې دې ته اړ کړ چې حضرت میا صاحب ته د وتلو فرمان جاري کاندي(۳). میاصاحب د خپلو ژړاندو مریدانو او مخلصانو د اوښکو په بدرګه له ښاره ووت او خپل مسقط الرأس د خانوزو کلي ته ولاړ. د کندهار یوه محلي شاعر ددغې پېښې تمثیل په یوه شعر کې کړی دئ چې یو فرد ئې داسې دئ:

مـیاصاحب چې ویـوست شاه حسین لــه دې ښاره
غرقې پاچهي ســــــــــــوه د پیرانو له ګفتاره

د خانوزیو او نورو کاکړانو اړیکې له شاه حسین هوتک سره د هغه د پلار له وختو ښې وې او له همدې اسیته ئې ونه غوښتل چې میاصاحب ته په ځای ورکولو سره ځان ته جنجال جوړ کړي. میاصاحب له خپلو ترېرو څخه نامېنده سو او مخ ئې پر تهل چوټیالی ونیو. د تهل اوسېدونکو تړینانو دده هرکلی وکړ ، مځکه ئې ورکړه او میاصاحب د خپل ژوند وروستي شپې کلونه په همدې تهل چوټیالی کې تېر کړل او په ۱۱۵۳ هـ ق کې وفات سو. زیارت ئې د عامو خاصو مرجع ده او د دوکۍ تړینان سرداران ئې سجاده نشین دي. په دغو سردارانو کې ملک صورت خان ترین دده د زیارت ګومبته په پاخه ډول ودانه کړه. داخبره مې باید مخکې لا هم کړې وای چې په تهل چوټیالی کې تړینان، کاکړان، بړېڅان او نور واړه قومونه اوسي.
ما غوښتل چې له افغان سید سره د ملاعبدالحق طل د پېژندنې کرښېل پیدا کاندم، هغه پر تاریخي بحث واوښتم. هیله من یم چې لوستونکي راسره ستړي سوي نه وي. بیان راڅخه اوږد سو خو د تهل (طل)د ملا عبدالحق پېژندنه راتلونکو څېړنو ته پاته سوه.

آشاوا ــ کاناډا
۲۱ مه د فبرورۍ ۲۰۱۷ع

---

۱ــ رشاد، عبدالشکور(پوهاند) جغرافیایي یاداښتونه، ۲۱۶ مخ، د محمد معصوم هوتک په زیار، ۱۳۸۹ش، کندهار
۲ــ فاروق سمائلزی، لرغونی بوری، ۱۳ مخ، پښتو اکېډیمي کوټه، بلوچستان، ۱۹۷۹م
۳ــ د دې پېښې د زیات تفصیل له پاره وګورئ: ډاکټر انعام الحق کوثر، تذکره صوفیای بلوچستان،۱۶۶ ـ ۱۶۷ مخونه، اردو ساینس بورډ، ۱۹۸۶ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ